**بسم الله الرحمن الرحیم**

## دا مه هېروئ چې مرگ یو واقعیت او سبب یې هم یوازې اجل دی!

مرگ او د ژوند پای نن ورځ په یوه غیر طبیعي او له پامه لوېدلي څه بدل شوی دی. اخرت او ابدیت ته له تصوره د یوه لرې ځیز په سترگه کتل کېږي. تر ډېره مو پام دنیوي او اوسني ژوند ته اوښتی. انسانان په دې دنیا کې ځان ته د ارامۍ موندلو او سعادت په لټه کې دي، دوی غواړي چې د دې دنیا د ژوند په وسیله د مرگ پر واقعیت سترگې پټې او پرده پرې وغوړوي.

د مرگ او اخرت په اړه فکر نه کول، د انسان پر کړنو او رفتار جدي اغېزې کوي، په دې سره انسان یوازې د دې نړۍ ژوند خپل هدف بولي او یوازې د دنیوي ژوند لپاره هڅه کوي. که د مرگ په اړه فکر ونه شي، نو انسان د خپلو اعمالو او مسوولیتونو د محاسبې په اړه اندېښنه نه کوي او د دې دنیا نېکمرغي ورته د ژوند پر اساسي موضوع بدلېږي، د خپل خالق حدود او اوامر ورته د خپلو هیلو او غوښتنو په پرتله ټیټ او کم ارزښته ښکاري، د خپل شهرت او هدف د ترلاسه کولو لپاره نورو ته فرېب ورکوي او دروغ وایي، دغه راز ښه ژوند کول ورته تر هر څه لومړیتوب گرځي.

بدهایه کسان پر بېوزلو ظلم کوي او رهبران هم خپلو خلکو ته فرېب او دوکه ورکوي. بشري وجدان یې له کمو ستونزو سره مخ کوي او یوازې دا ورته مهم وي چې څه ډول په دې ژوند کې خپلو چارو ته په ښه ډول ورسېږي. ډېرو نورو

نسلونو هم په همدې ډول ژوند کړی او ښايي نور به يې هم وکړي، د دې ټولو علت دا دی چې د مرگ په اړه فکر نه دی شوی.

(كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ وَنَبْلُوكُم بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً وَإِلَيْنَا تُرْجَعُونَ)

**ژباړه:** «هر ساکښ د مرگ د خوند څکونکی دی او موږ په ښو او ناوړه حالاتو کې په غورځولو سره تاسو ټول آزمايو. په پای کې همدا زموږ لوري ته ستاسې راگرځېدل دي.» [انبيا: ۳۵]

قران کريم انسان ته دا ور يادوي چې يوه ورځ به هرو مرو مري او دغه راز ابدي او دايمي ژوند هم له مرگ وروسته پيلېږي. د اسلام پيغام دا دی چې خلک په دې دنيا کې د خوښۍ او سعادت د پيدا کولو لپاره له بېځايه مبارزې راوگرځوي او دوی د اخرت او ابدي ژوند لور ته را دعوت کړي؛ ځکه چې په دې دنيا کې د سعادت ترلاسه کول ناشوني دي.

له الله سبحانه وتعالی سره نږدېوالی د ابدي ژوند لپاره د هر مومن زړه خلاصوي او دې پايلې ته رسېږي چې دا ژوند ژر تېرېدونکی دی؛ زموږ اصلي هڅه او موخه بايد اخرت وي.

له همدې کبله د اخرت د تذکر او په ياد راوړلو لپاره له مرگ غوره بل څه نشته. دا هم بايد په ياد ولرو چې مرگ يوازې د بوډاتوب، ناروغۍ، کمزورۍ يا ټکر له کبله نه دی. دا باور هم ناسم دی چې يو څوک ووايي چې زه ورزش کوم، ښه خواړه خورم، د ژوند شرايط مې ښه دي او يا هم په يوه سوله ييز هېواد کې ژوند

کوم، نو ځکه ژر نه مړ کېږم؛ د مرگ اصلي او حقیقي سبب یوازې او یوازې اجل (د ژوند پای) دی.

**﴿وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَن تَمُوتَ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ كِتَابًا مُّؤَجَّلًا وَمَن يُرِدْ ثَوَابَ الدُّنْيَا نُؤْتِهِ مِنْهَا وَمَن يُرِدْ ثَوَابَ الْآخِرَةِ نُؤْتِهِ مِنْهَا وَسَنَجْزِي الشَّاكِرِينَ﴾**

**ژباړه:**«هېڅ ساکښ د الله له حکم پرته مړ کېدای نشي، د مرگ نېټه لیکل شوې ده. څوک چې د دنیا د ثواب په نیت کار وکړي، هغه ته به موږ له همدې دنیا څخه ورکړو او څوک چې د اخرت په نیت کار وکړي، هغه به د اخرت ثواب ومومي. او شکر ایستونکو ته موږ هرو مرو د هغو مکافات ورکوو». [آل عمران: ۱۴۵]

پر دې اساس، هېڅوک باید په دې فکر کې نه وي چې له مرگه تېښته شته. پرځای یې باید له خپل ځان سره محاسبه وکړي چې ایا هڅې او کوښښونه یې یوازې د دغې دنیا د ښه ژوند لپاره دي، که د اخرت لپاره. د مرگ فکر باید تل راسره وي چې خپل اصلي هدف ورک نه کړو. په دې دنیا کې په ټوله مانا باید د ابدي ژوند لپاره کار وکړو. ډېر داسې کارونه شته چې انسان یې د مرگ لپاره د تیاري نیولو په موخه ترسره کړي؛ کولی شي چې د الله سبحانه وتعالی ټول هغه احکام تعقیب او په خپل ژوند کې عملي کړي چې په فردي ډول پرې فرض شوي او د دې په مقابل کې الله سبحانه وتعالی ورته اجر ورکوي. انسان باید په دې هڅه کې وي چې په دې دنیا کې تر ټولو ډېر اجر او پاداش ترلاسه کړي. له همدې کبله له هغې ډلې سره چې بشریت د اسلام او خیر لور ته رابولي، کار

کول او هغو ته نصرت ورکول، ډېر اجر او ثواب لري. په داسې فضا او ډله کې اوسېدل انسان ته ډېره اسانه کوي چې د دنیا له مکر او دوکې څخه په امن کې پاتې شي او د خپل اصلي ژوند او هدف لپاره کار وکړي.

دا فضا د حزب التحریر فضا ده، چې موخه یې د اسلامي ژوند بیا راژوندي کول دي، داسې ژوند چې پر انساني هوس او ځانغوښتنې نه وي ولاړ، بلکې تل پکې د الله رضایت ته د نږدې کېدو هڅه کېږي او په دې دنیا کې تل د اخروي ژوند د ښه کېدو لپاره کوښښ کېږي.

عثمان بن عفان رضی الله تعالی عنه د ژوند په وروستۍ خطبه کې وویل: «الله سبحانه وتعالی دا دنیا د دې لپاره درکړې چې د اخرت لپاره ګټه ترې واخلئ، د دې لپاره یې نه ده درکړې چې باور پرې وکړی؛ ځکه دنیا پناه کېدونکې ده؛ خو اخرت بیا تلپاتې ژوند دی». له همدې کبله اجازه مه ورکوئ چې د دنیا چارې مو د اخرت له ژونده لرې او غافل کړي. دا انتخاب په دنیا کې له تاسو سره دی، چې کوم ژوند ته لومړیتوب ورکوئ؟ تلپاتې، که پناه کېدونکی!؟

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**امانه عابد**

**د حزب التحریر د مرکزي مطبوعاتي غړی**

**ژباړن: شکیب عمر**